مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۲مه | ٤٤۹مه گڼه

# د ټاکنو نامعلوم برخلیک؛

## ثبات او همپالنه: بایلونکی ټیم هېواد د بحران لور ته بیایي




### د امریکایي چارواکو گرم سفرونه، سوله او ټاکنې

۲ مخ

### په سیمه کې د امریکا د حضور تر شا!

۲ مخ

### د سوریې کُردان ولې له ترکیې سره په شخړه کې دي؟!

۳ مخ

## مارک ایسپر: له افغانستانه د سرتېرو ایستل د سولې له تړون سره تړلي دي

د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر ویلي، هېواد یې له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو سره دوامداره همکاریو ته ژمن دی.

هغه په کابل کې یوې خبري غونډې ته د خبرو پر مهال دغه راز له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو په اړه د دې پوښتنې په ځواب کې چې ټرمپ ویلي وو، دوی له سوریې د خپلو سرتېرو په ایستلو کې جدي دي او له افغانستانه به هم خپل سرتېري وباسي، ویلي چې د سوریې او افغانستان وضعیت ډېر توپیر لري، دوی په افغانستان کې هم تر ډېره وخته د پاتې کېدو لېوال نه دي، خو په خبره یې، په افغانستان کې د سرتېرو هر ډول کمښت له طالبانو سره د سولې په تړون پورې تړلی دی.

نوموړي ویلي، دوی په افغانستان کې په میلیاردونو ډالر پانگونه کړې ده، له افغان ملگرو سره د همکارۍ اوږدمهاله ژمنتیا لري، افغان او امریکایي ځواکونو د افغانستان د خلکو د ساتنې لپاره قرباني ورکړې ده، نو دوی به تر هغه وخته پورې په افغانستان کې پاتې وي، څو چې یې دا باور نه وي تر لاسه کړی چې دا هېواد بیا د ترهگرو پر خوندي ځاله نه بدلېږي.

نوموړي زیاته کړې چې هېواد یې په افغانستان کې د سیاسي جوړجاړي پلوی دی، خو تر هغې چې جوړجاړی کېږي، امریکا به د طالبانو پر وړاندې خپلو بریدونو ته دوام ورکوي.


## په تېرو شپږو میاشتو کې ٦۴۸۷ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



۲ مخ

ځیره
۴ مخ

## جان کوینسي ادامز



کوینسي ادامز په امریکا د غلامۍ دود ختمولو لپاره اته کاله مبارزه وکړه او بالاخره یې د سنا مجلس د غړو په موافقې سره دغه ناوړه دود په امریکا کې ختم کړ.

## کرنې ریاست: دولتي اداري له دې وروسته د وارداتي مېوو پر ځای د میدان وردگ منې پېري



د میدان وردگو ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست ویلي، حکومت د منو له سوداگرو سره یو هوکړ لاسلیک کړی چې له مخې به یې د دغه ولایت له بڼوالو منې وپېرل شي.

د دغه ولایت د کرنې رییس ولید احمد تسل ازادي راډیو ته ویلي، د وردگو منې به د دولتي ادارو د خوړو په مینو کې د بهرنیو مېوو پر ځای په پام کې نیول کېږي. هغه ویلي، سږ کال په میدان وردگو کې د منو حاصلات زیات وو او په تخمیني ډول یې د حاصل اندازه نږدې ۱۲۰ زره ټنه وه. تسل زیاته کړې، دوی هڅه کوي چې له نورو لارو په گټه اخیستو هم د منو د خرابېدو مخه ونیسي او بازار ورته پیدا کړي.

دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې په ځلونو د دغه ولایت کروندگرو او بڼوالو شکایت کړی چې منو او نورو تازه مېوو ته یې حکومت بازار نه شي پیدا کولای.

## سکاټ مېلر: امریکا په تېر یوه کال کې له افغانستان څخه خپل ۲۰۰۰ عسکر ایستلي دي



په افغانستان کې د غوڅ ملاتړ د ماموریت مشر سکاټ مېلر ویلي چې امریکا په تېر یوه کال کې له افغانستان څخه خپل ۲۰۰۰ عسکر ایستلي دي.

د دغو عسکرو په ایستلو سره اوس په افغانستان کې د مېشتو امریکایي ځواکونو شمېر ۱۲۰۰۰ ته راکم شوی دی.

په افغانستان کې د مېشتو امریکایي سرتېرو ماموریت د افغان ځواکونه روزنه، تجهیز او هغوی ته سلا مشورې ورکول دي.

سکاټ مېلر تېره ورځ په کابل کې د امریکا له دفاع وزیر سره په گډ خبري کنفرانس کې د دغو سرتېرو د ایستلو خبره کړې ده.

په دغه کنفرانس کې د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو سرپرست وزیران، اسدالله خالد او مسعود اندرابي هم وو. دوی ویلي چې د امریکایي ځواکونو پر وتلو خبر دي، خو ټینگار یې کړی چې افغان ځواکونه د امنیت ساتلو توان او ظرفیت لري.

د امریکا دفاع وزیر مایک ایسپر هغو خبریالانو ته چې له ده سره کابل ته په سفر راغلي، ویلي چې متحده ایالتونه کولی شي په افغانستان کې د خپلو عسکرو شمېر ۸٦۰۰ ته راکم کړي او دا کار د هغه په خبره، د داعش او القاعده پر ضد مبارزه نه زیانمنوي.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریـــځ

## د امریکايي چارواکو ګرم سفرونه، سوله او ټاکنې

په دې وروستیو کې امریکايي چارواکي پرله پسې افغانستان ته سفرونه کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مرستیالې له سفر درې ورځې وروسته، د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر کابل ته راغی. له همدې سره نږدې په یوه وخت د امریکا د کانګرېس مشره نانسي پلوسي او ځینې غړي یې افغانستان ته راغلل. دوی له افغان چارواکو سره کتلي دي. له طالبانو سره خبرې اترې او سیاسي جوړجاړی، د ولسمشرۍ ټاکنې او له افغانستان سره د امریکا راتلونکې اړیکې او مرستې د دې لیدنو اساسي ټکي یاد شوي دي.

د امریکايي چارواکو د سفرونو اصلي موخه څه ده او دوی د څه په لټه کې دي؟

په افغانستان کې د امریکا اوسنی لومړیتوب له طالبانو سره جوړجاړی او سوله ده. دا سوله او جوړجاړی امریکا داسې غواړي چې ګټې یې خوندي شي او نړۍ ته په افغانستان کې د دوی د ماتې تصویر وړاندې نه شي. له همدې امله له یوه اړخه د سیاسي جوړجاړي هڅې کوي او له بله اړخه پر خپلو موخو ټینګار کوي. امریکا غواړي له طالبانو سره ځنډول شوې خبرې بیا پیل کړي، خو دوه کارونه باید وکړي. لومړی دا چې پر طالبانو باید خپلې ځینې غوښتنې ومني او یا داسې وښيي چې طالبانو یې غوښتنې منلې دي. دویم دا چې له طالبانو د خبرو او سیاسي جوړجاړي افغان مخالفین باید کمزوري کړي. د همدې لپاره امریکايي چارواکي هڅې کوي.

اوس چې ټاکنې شوې دي، که پاکې او ناپاکې، بایومټریک او غیر بایومټریک رایې وشمېرل شي، نو ولسمشر غني ګټونکی دی، خو که رایې سره جلا شي او یوازې بایومټریک رایې وشمېرل شي، نو محمد اشرف غني بایللې ده. له همدې امله امریکايي چارواکي ټینګار کوي چې یوازې بایومټریک رایې باید وشمېرل شي. امریکايي چارواکي په دغو سفرونو کې ولسمشر غني او نورو ملاتړو ته یې واضح وایي چې یوازې بایومټریک رایې باید وشمېرل شي. دوی حکومتي چارواکو ته واضح وایي چې له دې پرته به د امریکا له غوسې او خپګان سره مخ شي. د دې کار لپاره د امریکا سفیر او نورو ډیپلوماتانو له پخوا هڅې کولې، خو اوس دا هڅې په لوړه کچه شوې دي. له بله اړخه امریکا په دغو سفرونو سره افغان حکومت او سیاستوالو ته دا پیغام ورکوي چې دوی له طالبانو سره بیا خبرې پیلوي، خو دا ځل دوی غواړي څوک ورسره مخالفت ونه کړي. له همدې امله دوی د سولې پر خبرو ټینګار کوي، خو د عامه ذهنیت لپاره ځینې شرطونه هم یادوي.

له بله اړخه امریکا په ټاکنو کې د بایومټریک او غیر بایومټریک په جلا کولو سره غواړي ټاکنې دویم پړاو ته ولاړ شي. که غیر بایومټریک رایې ونه شمېرل شي، ټاکنې دویم پړاو ته ځي او دا هغه څه دي چې امریکا یې غواړي. د دې لپاره چې یخنۍ ده او ژمی را روان دی، نو دویم پړاو ټاکنې به په راتلونکي پسرلي کې کېږي. تر راتلونکي پسرلي به امریکا د سولې او سیاسي جوړجاړي لپاره نه یوازې وخت ولري، بلکې که د موقت حکومت په شان پر کوم بل څه توافق کوي، هغه به هم په اسانۍ سره عملي کړلی شي. همدا د امریکايي چارواکو د سفر اصلي موخه ده او د همدې لپاره کابل ته راځي.

# په سیمه کې د امریکا د حضور تر شا!

لیکنه: ف، فایض

که څه هم چې دا خبرې خو د مخه هم زمزمه کېږي؛ خو له کله چې امریکا دې ته چمتو شوه، چې له طالبانو سره مذاکراتو ته کښېني، ځینې شنونکي خصوصاً هغه چې د مختلفو دلایلو له مخې طالبانو ته ډېر تمایل لري، پر دې باور دي چې امریکا په افغانستان کې له ماتې سره مخ ده؛ نو ځکه غواړي چې ځانته یوه د خاورو پوزه جوړه کړي او له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي او بله ډله بیا دا نه مني چې امریکا په افغانستان کې ماته شوې. په دې ډله کې بیا ډېر هغه کسان شامل دي چې د مختلفو وجوهو له لامله د امریکا خوا ته تمایل لري او ګټې یې په امریکا پورې تړلې دي، هغوی دا نه شي زغملی چې واوري امریکا په افغانستان کې ماته شوې ده. دوی ته به ښایي د خلق ډیموکراټیک ګوند د کمونیستانو برخلیک هم مخې ته ودرېږي، کله چې روسان له افغانستانه مات ووتل او دوی یې د خپلو سیاسي یتیمانو په حیث بې یارو بې مددګاره پرېښودل، ان چې نجیب خو له خپل ورور سره په اریانو چوک کې را ځوړند کړای شو.

حقیقت دا دی چې دا دواړه احتماله موجود دي. لکه څرنګه چې په نړۍ کې نور استعمارګر مات شول، لکه برېټانیه چې ماته شوه، فرانسه ماته شوه، جرمني مات شو، ایټالیا ماته شوه، روسان مات شول، دغسې امریکا هم ماتیدای شي، لکه شاوخوا نیمه پېړۍ د مخه چې په ویتنام کې ماته شوه. امریکا هلته ډېر زیات تلفات ورکړل او بالاخره یې بله لاره و نه لیده، پرته له دې چې له ویتنام نه پښې سپکې کړي او دا هم امکان لري چې په افغانستان کې د امریکا پښې ټینګې شي او خپل مخالفین مات کړي؛ خو زما په اند دا پرېکړه به لا له وخته لږ څه د مخه وي چې ووایو امریکا په افغانستان کې له کوم حالت سره مخ ده.

وګورئ! که خبره له اقتصادي پلوه وجاجو، دا چې امریکا کومې ادعاوې کوي چې موږ په افغانستان کې دومره پیسې ولګولې، دا ځکه له حقیقت سره اړخ نه لګوي چې:

لومړی خو دا ده چې امریکا د شوروي په څېر نه ده چې په افغانستان کې د جنګ ټول لګښت د دوی پر غاړه وي؛ بلکې د افغانستان لګښتونه یې د ناټو پر غړیو هېوادو وېشلي دي، سره له دې چې دا منو زیاته برخه پکې د امریکا ده. دویمه دا ده، امریکا چې په افغانستان کې څومره لګښتونه کوي، د دې څو چنده له همدې وران ویجاړ افغانستانه تر لاسه کوي چې ډېرې غټې سرچینې یې مخدره مواد او د افغانستان معادن په ځانګړې توګه لیتیم دي.

درېیمه دا چې اوس خو د جنګ بوج هم ټول دافغانستان پر امنیتي ځواکونو دی، نه د امریکا پر غاړه. امریکا که په عملیاتو کې کومه مرسته کوي؛ نو هغه د هوایي بمباریو له لارې کوي چې هغوی ته هېڅ زیان نه اوړي؛ ځکه طالبان داسې وسلې نه لري چې د امریکا هوايي ځواکونو ته تهدید وي.

له بلې خوا ګورو چې امریکا له سیمې د وتلو هېڅ اراده نه لري. د بېلګې په توګه، دا چې د سعودي د تېلو پر زېرمو چا برید وکړ او څه ډول؛ خو پړه یې د یمن حوثیانو پر غاړه واخیسته او د ملامتۍ ګوته ایران ته ونیوله شوه، چې ایران دا ادعا رد کړه؛ خو نتیجه یې دا شوه چې اوس به د امریکا ځواکونه راځي او په سعودي او متحده عربي اماراتو کې به د دې دوو عربي هېوادونو د دفاع په نامه مېشت کېږي، سره له دې چې امریکا له دمخه په سعودي کې هم حضور لري، په قطر کې هم، په بحرین کې هم او په نورو عربي هېوادونو کې هم. امریکا غواړي چې په یوه غشي څو مرغۍ وولي. همدارنګه تاسې له پیله افغانستان ته د امریکا د راتلو فلسفه وګورئ! امریکا خو په دې نامه راغله چې افغانستان د القاعده کوربه و او القاعده پر امریکا د سپتمبر د یوولسمې ګوزارونه وکړل؛ نو القاعده باید د دې پېښې د اصلي عامل په توګه ټکول شوې وای او طالب په دې ګناه چې د القاعده مشر او ځینې نور غړي یې دلته ساتلي وو، ځپل شوی وی؛ خو دا اوس وګورئ چې امریکا په افغانستان کې کوم سیاستونه تعقیبوي، تاسې په غړېدلو سترګو وګورئ چې امریکا په افغانستان کې ځان خپلو اهدافو ته ونه رساوه؟ تاسې فرض کړئ چې د امریکا او طالبانو مذاکرات بیا پیل شول او د دوی تر منځ توافق وشو، ایا امریکا بیا طالب ته اجازه ورکوي چې خپل اسلامي امارت احیا کړي؟

که چېرې سوله کېږي، طالب به راځي د افغانستان له سیاسي ټولنې سره به مدغم کېږي او دلته به د ټولو ډلو یو ګډوله حکومت جوړېږي؛ خو قیادت به هېڅکله داسې یو چا ته په لاس ور نه کړي چې د امریکا مخالف وي. همدا اوس داسې خبرونه خپاره شوي چې امریکا غواړي په پامیر کې یو مستقل دولت جوړ کړي. دا خبره نوې نه ده؛ بلکې پخوانۍ نقشه ده. که چېرته دا کار ممکن کېږي، دا به په سیمه کې د یوه اسماعیلیه سټیټ را منځته کول وي چې په دې کې به افغانستان، پاکستان او تاجکستان متضرر کېږي. همدارنګه موږ ګورو چې په افغانستان کې د فدرالي نظام دمبورې د هغو کسانو له خوا غږول کېږي، چې د امریکا پر دسترخوان خړپېږي او کله کله خو ان د امریکا د لوړپوړو کسانو له خولې هم دغسې یو غږ را وځي چې یو یې جوبایډن دی، چې د ۲۰۲۰ ز کال ولسمشریزو ټاکنو ته د ډیموکرات ګوند نوماند دی. همدغسې دینا رورا باکر او نور سناتوران او کانګرېس مینان یوه برنامه تعقیبوي.

البته دا چې امریکا یا په ماتې یا په خپله خوښه له افغانستانه ووځي، دا د هر رښتیني افغان هیله ده او د سیمې هېوادونه لکه روسیه، چین، پاکستان، ایران، د مرکزي آسیا هېوادونه حتی هند هم دا غواړي؛ خو دا چې دا کار به څه ډول تحقق مومي، په دې اړه په احتیاط سره قضاوت کول پکار دي، نه دا چې د احساساتو د نیلي له شا نه. تاسې وګورئ! روسان که څه هم په افغانستان کې مات شول، د شوروي وروستي مشر ګرباچف اعتراف وکړ چې افغانستان ورته په ناسور تپ بدل شوی؛ خو د روسانو غیر مسوولانه وتلو چې افغانستان ته کوم مصیبتونه پرېښودل، افغانستان تر اوسه ورسره لاس او ګرېوان دی او لا معلومه نه ده چې تر کومه وخته به دوام کوي. روسانو خپل پلویان هم لکه د مخه چې ورته اشاره وشوه، پر ځای پرېښودل. هغه نجیب چې لا د ثور له کودتا نه د مخه د کا جي بي په تنخواه خورو کې شمېرل کېده، په څومره بدرنګۍ ووژل شو چې بیا د سلیمان لایق مرثیو هم ورته څه ګټه و نه شوه رسولای. همدارنګه افغانستان د بې نظامۍ په حالت کې پرېښودل شو چې نتیجه یې د مجاهدینو یو بې سرو بې سامانه حکومت او تر هغو وروسته د طالبانو امارت شو چې افغانستان یې له یوې نړیوالې انزوا سره مخ کړ او تر ۲۰۰۱ ز کال را وروسته هم امریکا هېڅکله له دې خبرې سره مرسته و نه کړه، چې په افغانستان کې یو ځواکمن مرکزي حکومت جوړ کړای شي او له بلې خوا یې له جنګه په شنډه شوی طالب بېرته د جنګ ډګر ته را کش کړ چې تر اوسه پورې هغه ده افغانستان د جنګ ډګر دی او د طالب تر څنګ یې یوه بل داسې حرکت ته لاره اواره کړه چې له عراق او سوریې نه شروع او دا دی تر افغانستان او جنوبي آسیا پورې یې هم لړۍ ورسېده. مرکزي آسیا هم د دې وېرې سرو پر سر اخیستې چې له افغانستانه پر آمو را ټوپ نه کړي او دلته د جنګ جګړو اور بل نه کړي؛ ځکه هغه هېوادونه خو څه د پاسه اویا کاله د کمونېزم تر ساطور لاندې پراته وو او اوس که دا حرکت هلته لار پیدا کړي؛ نو پر یوه بل ناورین به واوړي.

امریکا په سیمه کې ډېر لوی اهداف لري او داسې نه ده چې پرته له کومې محاسبې یو احساساتي ګام و چې د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر د یوولسمې د پېښو په غبرګون کې یې واخیست او که نه په عراق کې خو نه اسامه و او نه یې پر امریکا برید کړی و؛ خو نه؛ په دې ټوله سیمه کې له منځنۍ ختیځه نیولې تر افغانستان او بیا جنوبي آسیا پورې د امریکا حضور د ځانګړو اهدافو لپاره دی او امریکا هېڅکله دلته بې سنجشه نه ده راغلې؛ بلکې خپل مالي لګښتونه او خپل ځاني تلفات دا ټول یې محاسبه کړي او بیا راغلې. زه باور لرم که امریکا پر خپله پر دې قانع شي چې دلته ماته شوې، بیا یې که څوک پښو ته هم ولوېږي نه پاتې کېږي، لکه په ویتنام کې چې پاتې نه شوه، انګرېز هم چې کله پوه شو، نور یې په هند کې شتون ناشونی دی، له واره یې خپل تصمیم ونیو؛ نو امریکا هم له نورو استعمارګرو سره ډېره متفاوته کړنلاره نه لري.

## د بشري حقونو کمېسیون: په تېرو شپږو میاشتو کې ٦٤٨٧ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په تازه راپور کې ویلي، د روان ۱۳۹۸ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په افغانستان کې شپږ زره او ۴۸۷ ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې د تېر لمریز کال په پرتله ۸.۳٦ سلنه زیاتوالی ښيي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون تېره ورځ په افغانستان کې د روان لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي وګړو د تلفاتو په اړه خپل راپور خپور کړ، چې له مخې یې په دغه موده کې ۱٦۱۱ ملکیان د ښکېلو غاړو ترمنځ په نښتو کې وژل شوي او ۴۸۷٦ نور ټپیان دي.

دا په داسې حال کې ده چې یاد کمېسیون تېر کال په همدې موده کې د پنځو زرو او ۹۹٦ ملکي وګړو مرګ ژوبله ثبت کړې وه. په دغه شمېر کې ۱۴۹٦ وژل شوي او ۲۹۹۲ نور ژوبل شوي ملکیان شامل وو.

د کمېسیون کمېشنر نعیم نظري د دغه راپور د خپرولو پر مهال خبریالانو ته ویلي، چې د بشري حقونو د کمېسیون د ثبت شوو شمېرو له مخې، د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۷۵ سلنه ملکي مرګ ژوبلې مسوولیت د طالبانو پر غاړه دی.

نظري ویلي: «د یوولس فیصدو مسوولیت د افغان امنیتي ځواکونو او د دغو ځواکونو د پلوي ځواکونو په غاړه دی، د درې فیصده د داعش په غاړه او لس فیصدو تلفاتو عاملین څرګند شوي نه دي».

د دغه راپور له مخې، د طالبانو په عملیاتو کې ۱۰۵۱ تنه وژل شوي او ۳۸۲۷ نور ټپیان شوي دي. دغه راز د اسلامي دولت یا داعش په عملیاتو کې ۱۱۴ ملکیان وژل شوي او ٦۷ نور ټپیان شوي دي.

د افغان ځواکونو او د دغو ځواکونو د پلویانو په عملیاتو کې ۳۱۰ ملکیان وژل شوي او ۴۰۱ تنه ټپیان شوي دي. یاد راپور زیاتوي، په دې موده کې د ۱۲٦ تنو د وژونکو او د ۵۵۹ نورو ټپي شوو عاملین څرګند نه دي.

د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د راپور له مخې، د روان لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په سرحدي سیمو کې د ډیورنډ فرضي کرښې له هغې غاړې د توغندیو په بریدونو کې هم ۱۰ ملکیان وژل شوي او ۲۲ نور ټپیان دي.

یاد کمېسیون وسله والې نښتې، د سړک د غاړې ماینونه، ځانمرګي بریدونه، هوایي بمبارۍ او شپني عملیات د ملکي تلفاتو د سترو عواملو په توګه یاد کړي دي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دا راپور په داسې حال کې خپور کړی، چې تېره اونۍ د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي یا یوناما د روان ۲۰۱۹ ز کال د درېیمې ربعې راپور خپور کړ، چې پکې په افغانستان کې د ملکي تلفاتو د زیاتېدو خبر ورکړل شوی دی.



# د سوريې کُردان ولې له ترکيې سره په شخړه کې دي؟!

لیکنه: مشتاق رحیم

په تېرو اتو کلونو کې سوريه د کړکېچ او بحران له بېلابېلو پړاوونو څخه تېره شوې ده. په دې لړ کې د حکومت او ياغي ډلو ترمنځ جګړه شوې، د داعش ډله راڅرګنده شوې او کردانو د هېواد په شمال ختيځ کې له مرکزي حکومت څخه جلا سيمه ييز حکومت اعلان کړی دی.

د روان بحران په لړ کې دوې اونۍ وړاندې يو بل پړاو هغه مهال پيل شو، چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ اعلان وکړ چې خپل پوځونه د ترکيې او سوريې ترمنځ پولې ته له نږدې سيمو څخه وباسي.

د امريکايي ولسمشر د دغه اعلان په غبرګون کې ترکيې د خپلو سيمو او د پولې د ساتنې په پلمه، د سوريې پر شمال- ختيځو سيمو باندې بريد وکړ.

ترکيه ټينګار کوي چې پولې ته نږدې فعال کردي وسله وال ترهګر دي او د ترکيې او سيمې امنيت ګواښي.

کُردان د منځني ختيځ په کچه څلورمه تر ټولوستره توکميزه ډله ده، چې د سوريې په شمال- ختيځ، د ترکيې په سويل، د عراق په شمال، د ايران شمال غرب او يو لړ شمېر هم ارمنستان کې مېشت دي.

د لومړۍ نړيوالې جګړې پر مهال او له هغې وروسته، د انګرېزانو او فرانسويانو ترمنځ د بېلابېلو تړونونو له مخې، په سيمه کې د واک وېش تر سره شو.

د انګرېز استازي مارک سايکس او د فرانسې فرانسس جارج پيکو ترمنځ لاسليک شوي تړون له مخې، عثماني خلافت پر دوو برخو ووېشل شو.

همدا راز د ايران لپاره چې په سوريه کې فوق العاده اغېز لري، پياوړي او خپلواکۍ ته نږدې کردان د ايراني کردانو د پياوړتيا په مانا دي.

وروسته بيا په ۱۹۲۰ ز کال کې د يو بل تړون له مخې، په ترکيه کې مېشتو کردانو ته يو ازاد رياست ورکړل شو چې دا کار د ترکيې لهخوا رد شو.

په ورپسې کلونو کې له انګرېزي او فرانسوي استعماره د سيمې د هېوادونو د خلاصون په لړ کې، کردان په بېلابېلو هېوادونو کې چې مخکې يې يادونه وشوه، ووېشل شول.

د عثماني خلافت له ماتېدو وروسته، کردانو تل غوښتي چې د سيمې د يو ستر توکم په توګه خپل ازاد رياست او هېواد ولري او په دې لړ کې يې له هرې خوا مرستې اخيستې دي.

خو دغه هڅې له دويمې نړيوالې جګړې را وروسته، د سيمې د هېوادونو لهخوا ځپل شوې دي.

په دې لړ کې نه يوازې دا چې د کردانو د خپلواکۍ او ازادۍ سياسي او نظامي حرکتونه ځپل شوي، بلکې ځينو هېوادونو دا هڅه هم کړې چې کردي ژبه، کلتور او ټولنيز جوړښتونه وځپي او د دوی هويت مسخه کړي.

په ډېرو کرد مېشتو سيمو کې هڅه شوې چې نور قومونه ورکډه شي، څو هلته د ځايي کردانو اغېز او توکميز سوچه والی اغېزمن کړي.

په ځانګړې توګه، ترکيې د کردانو کارګر ډله ترهګره اعلان کړې او مشران يې له ډېرو کلونو راهيسې په بند کې پراته دي.

په منځني ختيځ کې د تېرو دوو لسيزو سيمه ييز سياسي بدلونونه د دې لامل شول چې يو وار بيا د کردانو تر منځ د يو خپلواک کردي هېواد د رامنځته کولو هيلې را ژوندۍ شي.

پر عراق د امريکا له بريد وروسته، په عراقي کردستان کې کردانو د خپلواکۍ هلې ځلې پيل کړې چې د يوې ټولپوښتنې په لړ کې عراقي کردانو د يو خپلواک هېواد غوښتنه په پرېکنده اکثريت تاييد کړه.

همدا راز کردانو په ايراني کردستان ايالت کې د خپلواکۍ هلې ځلې تېزې کړې. خو ايران په عراق کې ځانګړی اغېز درلود، نو له دې کبله يې له بغداد سره په شريکه د عراقي کردستان د خلکوغوښتنه وځپله.

بله خوا په سوريه کې له روان کړکېچ وروسته، کردانو د دغه هېواد په شمال ختيځ کې خپلواکه اداره جوړه کړه او د بشارالاسد له اداري څخه يې ځان جلا کړ. يادې ادارې د امريکا د پوځي او مالي مرستو پر مټ، په سيمه کې داعش ډله هم وځپله.

د داعش ډلې پر ضد بريا د دې لامل شوه چې کردان د خپل اغېز سيمه لا پراخه کړي او همدا راز د خپلې خپلواکۍ يا د سوريې په اوسني نظام کې نيمه خودمختاره دعوه مخ ته يوسي.

د کردانو او ترکيې ګډې پولې ته نږدې سيمو کې چې پکې ترکي کردان مېشت دي، د کردانو پياوړتيا د ترکيې لپاره د خطر زنګ و او ترکيې سره وېره پيدا شوه چې هسې نه ترکي کردان بيا ځلې د بېلتون غوښتنې سر را پورته کړي.

همدا لامل و چې ترکيې تېر کال د سوريې پر افرين سيمه باندې له ترهګرو سره د مبارزې په پلمه بريد وکړ او دا سيمه يې تر خپلې ولکې لاندې را وستله.

د تېرو څو کلونو په اوږدو کې ترکيې په وار وار له امريکا وغوښتل چې د سوريې پر خاوره تر دېرش کيلومتره پورې سيمه ورته پرېږدي، چې دوی په سيمه کې ترهګر وځپي او اوس د امريکايانو له وتلو وروسته يې دا تکل په عمل کې پيل کړ.

امريکا د سوريې له شمال- ختيځو برخو د خپلو پوځيانو په ايستلو، کردان په سيمه کې يوازې پرېښودل.

په سوريه کې د داعش له ماتې وروسته، د کردانو لهخوا د خپلواکې اداري اعلان، د دمشق لپاره د منلو وړ نه و.

د بغداد لپاره چې د عراقي کردستان د بېلتون له خطر سره مخ دی، خپلواکه يا نيمه خپلواکه سوريايي کردان د منلو وړ نه دي. ترکيه هم له تېرې نيمې پېړۍ راهيسې د کردانو پر ځپلو اخته ده.

بله خوا د مسکو لپاره هم چې د بشارالاسد د حکومت ملاتړی دی او له ترکيې سره تازه د ملګرتيا د پياوړي کولو په تکل کې دی، د کردانو ځپل د ملګرو د ګټو د ملاتړ مانا لري.

همدا لامل دی چې له سوريې د امريکا له وتلو وروسته، د کردانو په اړه د سيمې په سياست کې ښکېل ټول هيوادونه همغږي دي.

د ترکيې بريد، کردان اړ کړي چې دمشق ته مخه کړي او هلته د هېوادنۍ اړيکې پر مټ، د هغوی مرسته وغواړي. همدا لامل شو چې کردانو سوريايي پوځ ته له ترکيې سره پر پوله کرد مېشتو سيمو ته د ورتګ اجازه ورکړه.

په دې توګه د سوريې په شمال- ختيځ کې سيمې له ۲۰۱۲ ز کال وروسته، په لومړي ځل د دمشق تر کنټرول لاندې راغلې.

کردان له سيمې د امريکا له وتلو وروسته، په سيمه کې يوازې پاتې دي او ځکه نو د اوس لپاره به دغه توکم د خپلواکۍ پر ځای، د ځان ژغورنې په تکل کې له خپلې داعيې لاس په سر کېږي. سوريه او ترکيه به هم له دغه فرصته ګټه پورته کوي او د کردانو سيمو ته به د نورو توکمونو خلک ور استوي او هلته به يې د ځای پر ځای کولو هڅه کوي.

په دې کار سره دوی غواړي چې د سوريې په شمال- ختيځ کې د کردانو اغېز را کم کړي او همدا راز په دغو سيمو کې د کردانو د خپلواکۍ غوښتنې مبارزه کمزورې کړي.

که د بې طرفه قضاوت هڅه وشي، نو د کردانو او ترکانو ترمنځ د روان کړکېچ ټوله پړه په سيمه کې د هغو زبرځواکونو پر غاړه ده، چې د سيمې وېش يې په غير طبيعي او نا انډوله ډول وکړ.

د انګرېزانو د غير عادلانه او غير منطقي کړنو له کبله بلوڅان، پښتانه او کشميريان په اسيا کې کړېږي او په افريقا کې اېريتريا او ايتوپيا لسيزې لسيزې په شخړو کې ښکېل وو.

همدا راز د کردانو په بېلابېلو هېوادونو کې د وېشل کېدو له کبله، د دې خلکو او د سيمې هېوادونو ترمنځ يو اوږد کړکېچ پاتې دی.

که څه هم په نږدې راتلونکې کې به کردان اړ وي چې د خپلواکۍ غوښتنې مبارزه غلې کړي، خو په اوږدمهال کې به کردان د خپلواکۍ او جلا هېواد غوښتنه کوي او دا غوښتنه به په سيمه کې د کړکېچونو لامل کېږي.

# د ټاکنو نامعلوم برخليک؛

## ثبات او همپالنه: بايلونکی ټيم هېواد د بحران لور ته بيايي



د لومړنيو پايلو د اعلان په ځنډ کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ناتوانی پر دغه کمېسيون نيوکې ډېرې کړې دي. سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد لومړنۍ پايلې اوس اعلان کړې وای، خو تر دې دمه يې روښانه کړې نه ده چې لومړنۍ پايلې به څه وخت اعلانېږي. وړمه شپه د امريکا سفارت د ټاکنو د پايلو پر ځنډ غبرګون ښود او د دغه کار هرکلی يې وکړ. سفارت ويلي وو چې شفافيت تر سرعت ډېر مهم دی، نو که د شفافيت لپاره ټاکنې ځنډول کېږي، دوی ورسره موافق دي. بلخوا ټاکنيز ټيمونه بيا د کمېسيون پر دې کم کاريو او ځينو نورو ستونزو نيوکې لري.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون غړو څو جلسې کړې دي، خو تر دې دمه نه دي بريالي شوي چې د لومړنيو پايلو د اعلان لپاره ورځ مشخصه کړي. دوی وايي چې د ځينو تخنيکي ستونزو له امله يې کارونه ځنډېدلي دي، چې له دې امله د لومړنيو پايلو اعلان هم له ځنډ سره مخ شوی دی. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د مهالوېش له مخې، ټاکل شوې وه چې لومړنۍ پايلې تېره شنبه د تلې په (۲۷مه) اعلان شي، خو اوس دغه اعلان ځنډېدلی دی. د ټاکنو کمېسيون تازه ويلي چې په څو راتلونکو ورځو کې به پايلې اعلان کړي. د دغه کمېسيون غړې رحيمې ظريفي ويلي، دوی نه غواړي د هغه څه په اړه خبرې وکړي چې دقيق شوي نه دي. نوموړې وايي: ((موږ وخت لرو، ډېر ژر به پايلې اعلان کړو. دقيقه نېټه نه ده معلومه، خو تر څو ورځو ځنډ وروسته به لومړنۍ پايلې د افغانستان له خلکو سره شريکې کړو)).

سره له دې چې د ټاکنيزو ټيمونو ځينو ناظرينو د ټاکنو له ځنډه هرکلی کړی دی، خو ځينې ناظرين بيا د کمېسيون پر کمکارۍ او فلجوالي نيوکه کوي. د ثبات او همپالنې ټيم غړو تېره ورځ په يوه خبري کنفرانس کې وويل، چې کمېسيون په خپلو کارونو کې بريالی نه دی او ځينې بنسټونه يې په چارو کې مداخله کوي. د دوی په خبره، د ټاکنو کمېسيون تخنيکي برخې ته ځينې امنيتي کسان ننوتي دي او هلته يې لاسوهنې هم کړې دي. دوی زياتوي چې دا مسئله بايد په جدي توګه وڅېړل شي. د ثبات او همپالنې ټاکنيز ټيم غړي علي احمد عثماني ويلي: ((ځينې امنيتي کسان د کمېسيون تخنيکي برخې ته دننه شوي او په بايومټريک دستګاوو کې يې لاسوهنه کړې ده)).

د ثبات او همپالنې ټيم دغه غړي همدا راز د ټاکنو کمېسيون د دارالانشا د مشر، د امنيتي مرستيال خوشال سادات او د کمېسيون د امنيتي مسوول د دندو د ځنډولو غوښتنه هم کړې ده. نوموړي ويلي، بايلونکی ټيم غواړي چې د لوبې قاعده بدله کړي او لوبه د ځان په ګټه پای ته ورسوي.

د ثبات او همپالنې ټيم دغه راز د ولسمشر غني ټاکنيز ټيم ته په اشارې وايي، چې دوی ناکام شوي دي او هڅه کوي چې هېواد د بحران لور ته بوځي. د دوی په باور، حاکم ټيم هڅه کوي چې هر څه د ځان په ګټه وڅرخوي او له ټولو دولتي امکاناتو د ځان د بريا لپاره کار واخلي.

هغه د رايې شمېرنې په برخه کې پر شفافيت ټينګار کړی او زياته کړې يې ده، دوی به په ټول توان د خلکو له پاکو رايو دفاع وکړي؛ خو د کورنيو چارو وزارت وياند نصرت رحيمي وايي، دا ادعا چې ګوندې امنيتي ځواکونو د ټاکنو کمېسيون په داخلي کړنو کې مداخله کړې ده، په بشپړه توګه غلطه ده او دوی يې په کلکه ردوي. د ده په خبره، امنيتي ځواکونه قانون ته ژمن دي او د ټاکنيزو پروسو په امنيت کې يې په پوره امانتدارۍ ونډه اخيستې ده.

د ټاکنو د نامعلوم برخليک په اړه اندېښنې داسې مهال دي، چې لا هم د ولسمشريزو ټاکنو د لومړنيو پايلو د اعلان دقيقه نېټه نه ده مشخصه شوې. ځينې نوماندان بيا وايي چې لومړی پړاو ټاکنې ګټونکی نه لري، نو دويم پړاو ټاکنې هم ښايي د هوا د سړښت له امله تر راتلونکې پسرلي وځنډېږي. له دې ډلې کسانو يو هم ګلبدين حکمتيار دی چې تر دويم پړاو ټاکنو پورې د موقت حکومت غوښتنه هم کوي.

# راپورونه: په کشمير کې د هندي او پاکستاني پوځيانو ترمنځ نښتې درنه مرګ ژوبله اړولې

د هند او پاکستان ترمنځ د کشمير په لانجمنه سيمه کې د نښتو له کبله، دواړو خواوو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې ده.

د کشمير په لانجمنه سيمه کې پاکستاني او هندي عسکرو پر يو بل ډزې کړې چې ملکيانو ته هم پکې مرګ ژوبله اوښتې ده.

د دواړو لورو ترمنځ دا تازه کړکېچ له شنبې پيل شوی چې دواړه لوري يو او بل ته د درنې مرګ ژوبلې د اړولو ادعا کوي.

د هندي پوځ لوی درستيز جنرال بپين راوټ په نوي ډيلي کې خبريالانو ته ويلي، چې هندي سرتېرو پاکستاني پوځيان او هغه وسله وال په نښه کړي، چې د دوی پر خاوره يې بريدونه کول.

هغه زياته کړې: «موږ ته د را رسېدلو خبرونو له مخې، پاکستاني پوځيانو او په کمپونو کې ترهګرو ته سخت زيان اوښتی، تر اوسه پورې له شپږو تر لسو پورې پاکستاني پوځيان وژل شوي او تقريباً په همدې شمېر ترهګر هم له منځه تللي، د ترهګرو د مرګ ژوبلې نور خبرونه هم رارسېدلي، خو دا په يقين ويلی شو چې د ترهګرو درې کمپونه مو ويجاړ کړي او څلورم مو هم زيانمن کړی، که پاکستان همداسې چلند جاري وساتي، موږ به هم په راتلونکې کې همداسې ځواب ورکوو». هند تور لګوي چې پاکستاني پوځيان وسله والو ته لار ورکوي، څو د هند پر خاوره بريدونه وکړي.

د هندي پوځ د مطبوعاتو څانګې د فرانسې خبري اژانس ته تاييد کړې چې د کشمير په کوپواره غرنۍ سيمه کې دوه عسکر او يو ملکي کس وژل شوی او درې نور ټپيان دي.

د پاکستان پوځ بيا د دغو نښتو ملامتيا پر هندي عسکرو اچولې چې په خبره يې، د پاکستان تر واک لاندې کشمير کې يې پر ملکيانو باندې بريدونه کړي دي. د پاکستان د پوځ وياند جنرال اصف غفور په خپل ټوېټر ليکلي چې په جوره، شاهکوټ او نوشهرې کې هندي عسکرو پر ملکيانو بريدونه کړي، يو پاکستانی عسکر او شپږ ملکيان يې وژلي دي.

هغه دغه راز ويلي چې پاکستاني پوځيانو په ځواب کې نهه هندي عسکر وژلي او د هغوی دوه سنګرونه يې له منځه وړي دي. هند او پاکستان د کشمير د لانجې پر سر څو ځله سختې جګړې کړې او سږ کال يې د همدغو کړکېچونو په اوج کې د يو بل خاورې هم بمبار کړې دي. دا په داسې حال کې ده چې د کشمير کړکېچ وروسته له هغې يو ځل بيا زور واخيست، چې د هند حکومت د اګسټ په پنځمه د هندي کشمير کورواکي ورختمه کړه او دغه کار نه يوازې په هندي کشمير، بلکې په پاکستان او بنګله دېش کې هم د خلکو او پاکستاني چارواکو تُند غبرګون وپاراوه.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهګرۍ په لومه کې




دا د منځلارو ملت پالو پښتنو لپاره چې په هېواد کې یواځینی کینې اړخې غورځنګ ګڼل کېده، د شاتګ په مانا و. د هېواد لپاره د نېشنل عوامي ګوند سیاسي لرلید د ختیځ پاکستان په بېلېدو له خنډ سره مخ شو. په ۱۹۷۵ ز کال چاړواکو پر یاد ګوند په دې خاطر چې د پښتنو او بلوڅو بېلتون پالنې لپاره کار کاوه، بندیز ولګاوه. په ۱۹۷۰ ز لسیزه کې ختېک د زده کوونکو د ټولنې د مشر په توګه، له هغو عناصرو سره ناسته ولاړه وه، چا چې وروسته د پاکستان د خلکو ګوند جوړ کړ. ډېری داسې وختونه هم راغلي چې ختېک به د نیول کېدو له وېرې افغانستان ته تښتېده. هغه د ۱۹۷۰ ز کال په پای کې له نورو پښتنو او بلوڅو مشرانو سره په دې تور ونیول شو چې ګني د لړکیو د خپلواکۍ هڅې یې کړې وې. هغه مهال د حکومت د منتقدینو دا ډول نیول، یو بې ساري کار و، خو ختېک دوه کاله زندان تېرول د خپل سیاسي ژوند تر ټولو ښه وخت ګڼي. هغه په زغرده د زندان کیسې کوي او وایي چې د زده کړې یوه ښه دوره وه. له هغه سره ځینې پښتانه او بلوڅ سیاسي مشران او کینې اړخي پېژندل شوي لیکوالان هم زندانیان وو چې په ساعتونو به یې له یو بل سره سیاسي او علمي بحثونه کول. د ۱۹۷۷ ز کال له کودتا سره ختېک د لنډې مودې لپاره له زندان څخه خوشې شو، خو ډېر ژر بېرته ونیول شو او په ۱۹۷۹ ز کال په یوه نظامي محکمه کې په یو کال بند محکوم شو، لوی ګواښونه موجود وو. د ۱۹۷۸ ز کال په اپرېل میاشت په افغانستان کې د کمونېستانو کودتا وشوه، راتلونکی کال روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، دا مهال نو د پاکستاني پوځ مسئولت ډېر ستر و. حکومت غوښتل چې ټول سیاسي مخالفین له مخې لیرې کړي، ځکه نو ختېک هم په خطر کې و. د ۱۹۸۰ ز کال په یوه ماښام، د ختېک یوه بیروکراټ ملګري ورته ویلي وو، که غواړې له وژل کېدو بچ شې، نو د څه وخت لپاره باید له هېواده بهر ژوند وکړې.

ختېک خپل ملګري ډاکټر نجیب  ته پناه یوړه، هغه په افغانستان کې د کمونېست رژیم مشر و. په افغانستان کې د شوروي انقلاب تر شا دا مهال ۱۰۰۰۰۰ روسي سرتېري ولاړ وو. ختېک کابل کې د اکبرخان په نوم یادېده. هغه پوره اته کلونه د کمونېست رژیم مېلمه و. په افغانستان کې یې پر همدې مهال د افغان سیاست او ټولنې په اړه ډېر څه زده کړل. هغه پر همدې مهال د روسي بلاک هېوادونو ته سفرونه هم وکړل او ډېر ژر پوه شو چې د روسانو خیالي خبرې د پلې کېدو وړ نه وې.

ختېک په ۱۹۸۹ ز کال د جنرال ضیاء الحق تر وژل کېدو وروسته پاکستان ته ستون شو. لومړۍ وزیرې بېنظیر بوټو د پوځي رژیم ټولو مخالفینو ته عمومي بښنه اعلان کړه. ختېک په پېښور کې د یوه ډیپلومات په توګه دنده پیل کړه، هغه په پېښور کې له افغان مجاهدینو سره د خبرو لپاره د افغانستان د ولسمشر ډاکټر نجیب الله ځانګړی استازی و. په پاکستاني سیاست کې یې رول خورا کمرنګه برېښېده. د پیسو د کمښت په سبب یې په ۱۹۹۰ ز لسیزه کې څو ټاکنې پرلپسې وبایللې. د پاکستان د خلکو ګوند نوموړی له ځینو نورو روڼ اندو سره یو ځای په دې تور له ګونده لیرې کړ چې ګني کمونېست پلوه و. هغه وروسته د پاکستان د بشر حقونو له غورځنګ سره یو ځای شو.

ختېک په شلمه پېړۍ کې د پښتنو د سیاست دوه بهیرونه مخکې یوړل. لومړی د یوې سوله ییزې ټولنې د خدایي خدمتګار عبدالغفار خان د عدم تشدد له مبارزې اغېزمن شوی و، دوهم یې غوښتل دا ډول مبارزه د یوه نړیوال سوسیالېست حرکت په اډانه کې مخ ته یوسي. د سړې جګړې پر مهال د درېیمې نړۍ په هېوادونو کې سوسیالېست غورځنګونه شوروي اتحاد په خورا هوښیارۍ سره تر خپل کنټرول لاندې راوستي وو. په لوېدیځو هېوادونو کې بیا د دې ډول غورځنګونو د نفوذ د مخنیوي هڅه کېده.


لومړی ځل مې په ۱۹۹۷ ز کال، په پېښور کې د ډاکټر نجیب د مړینې په لومړي تلین کې له ختېک سره ولیدل. په ۱۹۹٦ ز کال طالبانو د افغانستان پر ډېریو سیمو کنټرول لګولی و، د کابل له نیولو سره سم یې ولسمشرۍ ماڼۍ ته نږدې هغه په دار کړ. ختېک له اسلام سره د افراطیانو پر ملاتړ اختلاف لاره، خو د دې کار د نقد او مخالفت لپاره یې کره او روښانه پلان نه لاره. د طالبانو بریا په پاکستان کې مېشتو اسلامي سیاسي ګوندونو ته هم ساه ورکړه. هغوی هېڅکله ټاکنې نه وې ګټلې، خو د افغانستان او پاکستان ترڅنګ یې په نورو سیمو کې هم د خپل قدرت غځولو خوبونه لیدل.

ختېک اندېښنه لرله چې دا ډول حرکتونه به د پښتنو ټولنه او سیاست په بنسټیزه توګه خپل لور ته ور مرش کړي. هغه به هرکله یادون کاوه چې پښتانه څنګه د نړیوالتوب له کاروان څخه وروسته پاتې شول. هغه وایي چې سړه جګړه د همدې پښتنو په قربانیو تمامه شوه، خو د واشنګټن او مسکو تر منځ د اختلاف له پای ته رسېدلو سره پښتنو هېڅ هم ور نشو کړای. هغه له وړاندې اټکل کړی و چې د پښتنو له سیمو به د افراطیت او تاوتریخوالي لابراتوارونه جوړېږي: ((موږ د ټولنیز اقتصاد د پرمختګ په برخه کې د لږ ځواک لرونکې سیمه یو. زه د راتلونکې په اړه اندېښمن یم.))

**دوام لري...**

# جان کوینسي ادامز

شفیق امیرزی



جان کوینسي ادامز د امریکا شپږم ولسمشر دی. هغه په ۱۷٦۷ ز کال کې په ماسوچست کې زیږېدلی او د ۱۸۴۸ ز کال د فبرورۍ په ۲۳مه مړ شوی دی. هغه د ۱۸۲۵ او ۱۸۲۹ ز کلونو ترمنځ د امریکا ولسمشر و. د امریکا د ولسمشرانو ترمنځ جان کوینسي ادامز وتلی نوم دی او د خپل واک په موده کې یې دغه هېواد ته مهم خدمتونه کړي دي. د دې تر څنګ، کلونه کلونه په کانګرېس کې د امریکایي وګړو استازی پاتې شوی دی. هغه ډیپلومات و، پوځي کارپوه و، په امریکا کې یې اصلاحات غوښتل او د پرمختګ پلوی و.

جان کوینسي ادامز د امریکا لومړنی ولسمشر دی، چې د دغه هېواد د یوه تېر ولسمشر زوی ګڼل کېږي. ده ته له کاري اړخه ډېرې ځانګړنې او ځیرکتیاوې له پلاره په میراث پاتې وې. ډېرې خویونه او عادتونه یې پلار ته ورته وو. د ده پلار جان ادامز د امریکا دویم ولسمشر و، چې نن هم په دغه هېواد کې له ځانګړي ځای او درناوي برخمن دی.

ادامز په هاروارډ پوهنتون کې حقوق لوستي وو. په ۲٦ کلنۍ کې د امریکایي استازي په توګه هالنډ ته لاړ. په همدې ځای کې یې فعالیتونه تر سره کول او کارونه یې د پام وړ وو. بیا یې پرمختګ وکړ او د برلین سفارت ته لاړ. په برلین کې یې هم د امریکا ښه استازولي وکړه. په ۱۸۰۲ ز کال کې د امریکا د سنا غړی شو. شپږ کاله پس ولسمشر مدیسون؛ جان کوینسي ادامز په روسیه کې د امریکا سفیر او استازی وګوماره. هغه په دې سخت ماموریت کې مهم کارونه تر سره کړل او هڅه یې کوله چې د امریکا او روسیې ترمنځ اړیکې ښې کړي.

د مونرو د واکمنۍ پر مهال، جان کوینسي ادامز د بهرنیو چارو د وزیر په توګه دنده تر سره کوله. هغه په دې ماموریت کې خورا پیاوړی او تکړه کس و. امریکایي حکومت د هغه هڅې او فعالیتونه نه هېروي. ډېری امریکایان پر دې باور دي چې ښایي ادامز د امریکا په تاریخ کې د بهرنیو چارو تر ټولو پیاوړی وزیر و.

جان کوینزي ادامز د ۱۹مې پېړۍ په لومړیو کې د شته عرف په اساس، د ولسمشر د ځای ناستي په توګه وپېژندل شو. هغه وخت عرف دا و، چې د بهرنیو چارو وزیر تر ولسمشر وروسته یا د ستونزې په صورت کې د ولسمشر ځای ناستی کېدای شي. خو د ولسمشر د ګومارل کېدو دودیز عرف په امریکا کې نور د بدلېدو په حال کې و.

په ۱۸۲۵ ز کال کې په امریکا کې د یوازیني ګوند په منځ ټوټې کېدل او د نوو ډلو رامنځ ته کېدل پیل شوي وو. هرې ډلې غوښتل چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره یو نوماند ولري. په هغه وخت کې د شمالي وګړو نوماند جان کوینسي ادامز و، هغه په الکترال او عمومي رایې اچونه کې له جنرال اندرو جکسون وروسته و. خو په دې منځ کې یې له ویلیام کرافورد او هنري کلي ډېرې رایې ګټلې وې. نو دا چې له دریو نوماندانو یوه هم اکثریت رایې نه وې خپلې کړې، نو د استازو مجلس اړ و چې له دریو نوماندانو یو د ولسمشر په توګه ومني. دا دری باید هغه کسان وي چې تر نورو ډېرې رایې یې خپلې کړې وي. دوی ټولو جان کوینسي ادامز د ولسمشر په توګه وګوماره. په دې توګه نو هغه د امریکا شپږم ولسشر شو. په هغه وخت کې امریکا ۱۲،۸٦ میلیونه نفوس درلود.

ادامز سره له دې چې پوهېده، کنګره له دښمنیو او مخالفتونو سره مخ کېږي، خو بیا یې هم په لومړني کلني پیغام کې خپله ملي برنامه معرفي کړه. هغه په ملي کچه ستر پروګرامونه لرل او غوښتل یې د دغو برنامو پر مټ امریکا واحده کړي، اختلافونه له منځه یوسي او یو پیاوړی مرکزي نظام جوړ کړي. ده په لومړي سر کې داسې طرحه وړاندې کړه چې د امریکا ټولې فدرال ادارې یې د شبکو او کانالونو له لارې سره وتړلې. ده په دې توګه غوښتل بېل ایالتونه او فدرالي حکومتونه په یو بل پورې وتړي او یو بل ته یې اړ کړي، څو د اختلاف او کشمکشونو مخه ونیول شي.

هغه په لومړي سر کې د ستورو او فضایي تحقیقاتو لپاره هم ملي مرکز رامنځ ته کړ، د علومو د پراختیا لپاره یې له ملي بودجې پیسې ځانګړې کړې، د هنرونو د ودې لپاره یې هم ځانګړې پاملرنه وکړه او غوښتل یې امریکایي وګړي په علمي، هنري او تحقیقاتي برخه کې پیاوړي او مخکښ وي.

په امریکا کې د ۱۸۲۸ ز کال د ټاکنو لپاره تیارۍ روان و. په ټاکنیزو منډو ترړو کې د هغه ټاکنیز سیال جکسون او ملاتړو یې دی پر فساد تورن کړ. دوی ویل چې کوینسي ادامز حکومتي امکانات په ناسمه لار کاروي، له صلاحیتونو ناسمه ګټه پورته کوي. یوازې په دې یې بسنه ونه کړه، دوی کوینسي ادامز فاسد شخص وباله او په اختلاس یې تورن کړ. کوینسي ادامز دغه تورونه ونه زغمل، نو په ټاکنو کې تر ماتې وروسته ماسوچست ته لاړ او هلته یې په مطالعه او څېړنو پیل وکړ. ده په خپله پلرنۍ مزرعه کې مطالعه کوله، کار یې کولو او پرېکړه یې وکړه چې پاتې عمر به همدلته تېروي.

په ۱۸۳۰ ز کال کې په ټاکنو کې تر ماتې خوړلو پوره دوه کاله وروسته، ادامز په ناڅاپي توګه د پلیموت د سیمې د خلکو د استازي په توګه د امریکا استازو مجلس ته لار پیدا کړه. په دې توګه یې نو د عمر دوې لسیزې د یوه پیاوړي رهبر په توګه تېرې کړې.

کله چې ادامز د امریکا د استازو مجلس ته راغی، نو په دغه مجلس کې ګڼ خلک د خپلو ګټو لپاره قوانین تصویبوي او ځینې اقدامات کوي. خو دی د هغو مسایلو ملاتړی وي چې د امریکایانو په ګټه وي او عدالت تامین کړي. په ۱۸۳٦ ز کال کې د استازو مجلس داسې قانون تصویبوي چې له مخې یې د غلامانو د ازادولو او د دوی د حقوقو لپاره هر ډول شکایت او اعتراض باید بېرته رد کړل شي، خو کوینسي ادامز د دې سخت مخالف و، چې په امریکا کې دې غلام ساتنه ادامه پیدا کړي. هغه پوره اته کاله مبارزه وکړه، څو وکړی شي دغه قانون بېرته د استازو د مجلس په وسیله لغوه اعلان کړي.

ادامز د استازو له مجلس او په دې مجلس کې له کار سره مینه لرله. هغه د خلکو له حقونو د دفاع لپاره شپه او ورځ هڅې کولې او هېڅ وخت تسلیم نه شو. کوینسي ادامز د عمر تر وروستیو پورې په همدې مجلس کې و. په ۱۸۴۸ ز کال کې یې د مجلس په تالار کې سکته وکړه او پر ځمکه وغورځید. هغه یې د مجلس اطاق ته یووړ. دوې ورځې وروسته یې همدلته ساه ورکړه، کوینسي ادامز په ماسوچست کې د خپل پلار، مور او مېرمنې څنګ کې خاورو ته سپارل شوی دی.

کوینسي ادامز د جیمز مونرو په څېر د امریکا ګټو او یووالي ته ژمن کس و. ده نه غوښتل چې یوازې یو ګوند دې په حکومت کې ونډه ولري او ټول واک دې له دوی سره وي. له همدې امله همدا چې واک ته ورسېد، نو په کابینه کې یې تغیرات په دوو بنسټونو کې راوستل. یو دا چې کسان باید د وړتیا پر بنسټ وګومارل شي او بل دا چې د امریکا د بېلو برخو اوسېدونکي وي، څو په دې توګه هم پرمختګ رامنځ ته شي او هم ټول خلک ځان په حکومت کې ووینې.

هغه د مونرو د کابینې له ځینو غړو وغوښتل چې د ده په حکومت کې هم خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي. د خزانې وزیر، د سمندري ځواک وزیر او ډېر نور وزیران د مونرو له کابینې ورپاتې وو. د ځینو څوکیو وړاندیز یې خپلو ټاکنیزو سیالانو ته وکړ، خو دوی ورسره و نه منله. ادامز د دې پلوی و، چې امریکا دې مرکزي پیاوړی حکومت ولري، خو د دې مخالف و، چې د حکومت واک دې ټول له یوه کس سره وي.

ده د امریکا د اقتصادي ودې او داخلي پرمختګ لپاره پر اړینو اصلاحاتو او پلانونو لاس پورې کړ. هغه د امریکایي حکومت د لګښتونو د پوره کولو او دغه راز د لویو ملي پروژو د عملي کولو لپاره پیسو ته اړتیا لرله، خو دغه پیسې له امریکایي حکومت سره نه وې. ده د تېرو حکومتونو په څېر د مالیاتو لوړولو ته مخه نه کړه، بلکې پر ځای یې په امریکا کې د دولتي ملکیتونو او ځمکو پلورلو ته مخه کړه. هغه ځمکې پلورلې او پر ځای یې په امریکا کې لویې پروژې پلې کولې. سړکونه یې جوړول، پوهنتونونه یې ودانول، علمي تحقیقات یې تر سره کول او عامه تاسیسات یې رغول. ده په دې توګه غوښتل چې د امریکا ملي اقتصاد پیاوړی کړي او د امریکا ودې او دایمي پرمختګ ته لار جوړه کړي.

ادامز د دغو کارونو په مقابل کې ډېر مخالفین لرل. دوی ویل چې فدرالي ادارو ته باید واک ډېر ورکړل شي او مرکزي حکومت دې دومره ډېر فعالیتونه نه تر سره کوي.

د کوینسي ادامز له نورو مهمو کارونو یو هم د سوداګرۍ لپاره د ځانګړي پلان جوړول وو. هغه وکړی شول چې له ډېرو هېوادونو سره سوداګریزې هوکړې رامنځ ته کړي او هغه عملي کړي. تر دې وړاندې هم د امریکا او ځینو هېوادونو ترمنځ هوکړې رامنځ ته شوې وې، خو امریکایي ولسمشرانو عملي نه شوی کړی، اما کوینسي ادامز پر دې بریالی شو، چې سوداګریزې هوکړې عملي کړي او په امریکا کې د سوداګرۍ د ودې او پرمختګ لپاره لار پرانیزي.

کوینزي ادامز ډېر وخت چوپ او ګوښه ناستی سړی و. تر ډېره یې خویونه د خپل پلار په څېر و. ده به ویل چې ښایي پر ژور خپګان یا ډېپرېشن اخته وي. له همدې امله یې ډېر وخت د ژور خپګان د علاج هڅه هم کوله. ډېر یې په عمومي ځایونو او سیمو کې ناسته ولاړه نه خوښېدل. تر ډېره به عامه کارونو ته نورو هڅاوه. هغه له خپل پلاره خورا ډېر متاثر و. کوینسي چې کله زلمی و، نو د امریکا د ازادۍ جګړه روانه وه. د هغه مور به یې د پلار ستاینې ورته کولې، له همدې امله یې پلار ته خورا ډېر درناوی درلود. بلخوا یې مور ان په ځوانۍ کې له ده ډېره تمه لرله. دی وایي، ښایي اندېښنې او ژور خپګان یې د مور له ډېرې تمې ورته پیدا وي؛ ځکه هغې به ډېر هڅاوه، کله کله به یې د ځینو لټیو له امله رټلو او ډارولو هم.

بالاخره د امریکا دغه پیاوړی ولسمشر، رهبر او څو دورې د دغه هېواد د سنا مجلس غړی د ۷۸ کلنۍ په عمر د مغزي سکتې له امله ومړ. نوموړي ته د امریکا د استازو په مجلس کې ټولو د یوه اتل، نه ماتېدونکي او صادق انسان په سترګه کتل. هغه تل د حق مسایلو پلویتوب کاوه، د جګړې سخت مخالف و او د امریکایي وګړو له حقوقو یې د شتمنو او سیاسیونو په مقابل کې دفاع کوله.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،۳۰ |
| € | ۸۷ |
| Rp. | ۴۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱،۲۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړني شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# پر ځان کم باوري، پر ګډ ژوند يې اغېزې او حللارې

لیکنه: نور احمد فضلي

یوه عاطفي اړیکه کولای شي چې ستاسې په ژوند کې یوه بهترینه تجربه اوسي او ستاسې عواطفو او احساساتو ته وده ورکړي او همدارنګه د امنیت او خوندیتوب احساس رامنځ ته کړي؛ خو هر وخت هم دغسې نه وي. یوه بده عاطفي اړیکه کولای شي چې ستاسې د جسمي روغتیا او روح و روان لهپاره جدي ګواښ او خطره اوسي. دا یو حقیقت دی چې اړیکې د انسانانو پر ځان د اعتماد او خودباورۍ پر کچې باندې اغېز لري. په ډېرې مواردو کې پر نفس باندې د باور کموالی د دې سبب کېږي، چې ډېری کسان یوه بد ګډ ژوند ته ادامه ورکړي. که د ژوند له ملګري سره همېشه ستاسې پر ځان باور هدف نیول کېږي، د دغه احتمال چې په هر ترتیب یادې اړیکې ته ادامه ورکړی، هم زیات دی، که څه هم تاسې همېشه بد احساس ولری؛ ځکه ستاسې لهپاره له یوې اړیکې وتل خورا ستونزمن دي.

پر نفس بې باوري مو نه یوازې د دې سبب کېږي چې اړیکې ته همداسې ادامه ورکړی؛ بلکې د هغو ځیزونو پر وړاندې ستاسې د اعتراض او درېدو مخه نیسي، کوم چې ستاسې د ناراحتۍ سبب کېږي. هغوی چې پر ځانو باندې باور نه لري، له ستونزو سره له هر ډول مخ کېدلو څخه پرهېز کوي. دوی ځکه له هر ډول ستونزو سره له مخ کېدو پرهېز کوي، چې د ژوند د ملګري پر وړاندې د خوندیتوب احساس نه لري او هم د هغه/هغې له لاسه ورکولو وېرېږي. که څه هم کولای شي چې اختلافات او شخړې د یوه دوستانه تعامل او صلح آمیزو خبرو اترو له لارې حل کړي.

پر ځان بې باوري خورا خطرناکه ده. پر ځان بې باوري د کمزورتیا سبب کېږي چې ځینې کسان همداسې پسې پاتې شي او و نه شي کولای چې له دغې کمزورتیا څخه راووزي. د دې لهپاره چې له داسې یوې اړیکې څخه لرې پاتې شی، باید هغه نښانې چې ستاسې پر ځان باور یې هدف ګرځولی دی، وپېژنئ.

**کله چې تاسې خپله نه یاست**

د خپلې خوښې کار نه اجرا کوی؟ ورزش نه کوی؟ د خپلې خوښې موسیقي نه اوری؟ په یوه داسې اړیکه کې چې ستاسې د ژوند ملګری/ملګرې ستاسې پر نفس اعتماد کمزوری کوي، تاسې په آسانۍ سره له هغه څه څخه چې یاست، لاس اخلی. له ځانه لاس اخیستل یانې له ټولو هغو کارونو لاس په سر کېدل چې ستاسې خوښېدل او ستاسې له شخصیت او روحیاتو سره متناسب وو.



**ستاسې د ژوند ملګری/ملګرې مو کنټرولوي**

که ستاسې د ژوند ملګری/ملګرې ستاسې د ژوند پر ټولو اړخونو تسلط لري او په هرڅه کې مداخله کوي او شخصي حریم نه مراعاتوي، دا طبیعي خبره ده چې د وخت په تېرېدو سره پر ځان باور له لاسه ورکوی. شخړه خوښ او تعرضي افراد همېشه داسې چار چلند کوي چې هرڅه په خپل واک او اختیار کې واخلي.

**کله چې د ژوند پر ملګري شک کوی**

په اړیکه کې پر نفس د باور له لاسه ورکولو یوه نښانه دا ده چې پر اړیکه باندې شک کوی. هرکله چې همېشه دې ته اندېښمن یاست، چې آیا مېړه/ماینه مو درسره مینه لري که نه او پاملرنې ته یې زیاته اړتیا ولری، خو له مقابل طرفه هېڅ تر لاسه نه کړی، دغه یانې ستاسې اړیکه داسې پر مخ تللې ده چې ستاسې پر نفس باور کمزوری شوی دی.

**ستاسې اړتیاوې مهمې نه دي**

داسې احساس په یوه ځل نه رامنځ ته کېږي، کېدای شي د وخت په تېرېدو سره متوجه شی چې تاسې یوازې د خپل مېړه/خپلې ماینې له غوښتنو او تمایلاتو سره مطابق ژوند کوی؛ د هغه/هغې د خوښې وړ مجلسونو کې برخه اخلی او د هغه/هغې د خوښې وړ خوړنځایونو ته ځی. ځینې وخت داسې احساس هم کوی چې لومړیتوب همېشه د هغه/هغې اړتیاوې دي او ستاسې اړتیاوې همېشه له پوره کېدو پاتې کېږي. په دغسې مواردو کې تاسې حتی ځان ته هم دومره پام نه کوی، خو د وخت په تېرېدو سره احساسوی چې نور چنداني اهمیت او لومړیتوب نه لری.

**تاسې همېشه ملامت یاست**

تر یوې اندازې پورې په اړیکو کې جنګ و جدل طبیعي دی. ځینې وخت کېدای شي یو نفر د یوې شخړې یا یوه اختلاف مسوول اوسی، خو که همېشه ځان ملامت ګڼی، هره خطا او غلطي پر ځان در اړوی، دغه مسئله خورا زیاته ستاسې پر ځان باورۍ باندې اغېز او تاثیر لري. کله چې همېشه ملامت او ګرم پېژندل شوي یاست، د دې احتمال چې بیا بیا هم ځان ملامت او پړ وګڼی، خورا زیات دی.

**پر اړیکه باندې د پر نفس بې باورۍ اغېز**

همېشه عاطفي اړیکه نه ده چې پر نفس باندې د باور له لاسه ورکولو سبب کېږي. ځینې وختونه دغه مسئله په ژوند کې له نورو تجربو څخه هم زېږي، چې دا بیا د دې سبب کېږي چې د ژوند د ډېریو اړخونو په اړه ناخپلواک و اوسی. که څه هم موږ ټول ځینې وختونه په ژوند کې د ځینو غلطیو، ناکامیو او اشتباهاتو په خاطر پر ځان بې باوره کېږو؛ خو د دغه حالت تداوم کولای شي چې پر عاطفي اړیکې باندې بد تاثیر وښیندي.

څېړنې ښیي چې پر ځان باور کولای شي له اړیکې څخه د مېړه او ماینې د رضایت پر کچه باندې تاثیر ولري. هرکله چې د ځان په نسبت بد احساس لری، همېشه کوښښ کوئ چې په اړیکه کې تایید او خوندیتوب وغواړی. تایید کېدل او د خوندیتوب احساس ښه دی، خو هغه وخت نه چې تاسې هغه له وېرې او د یا زیات فشار له وجهې وغواړی. دغه مسئله هم تاسې ته زیان رسوي او هم مقابل طرف خسته او ستړی کوي.

همدارنګه پر ځان بې باوري ستاسې د ژوند له شریکه ستاسې تصور بدلوي. دا احتمال شته چې د کمزورتیا په خاطر، په خپلو باورونو او نظریاتو کې داسې احساس کړی چې له کوم بل لوري تهدیدېږی. همېشه اندېښنه لری چې هغه مو پرې نږدي، مینه به درسره نه لري او ناموازې اړیکې به درسره شروع کړي.

تاسې د شک او لېونتوب په بدترینو حالاتو کې راګیرېږی او مقابل طرف ځوروی. په دغسې یوه وضعیت کې د اړیکې حساسیتونه ډېرېږي او تاسې داسې کار کوی چې ستاسې د ژوند ملګری/ملګرې هم ستاسې په اندازه په دغه اړیکه کې د خوندیتوب احساس ونه کړي.

پر ځان د بې باورۍ له وجهې تاسې همېشه مضطرب او اندېښمن یاست، په ژوند کې د هرې کوچنۍ مسئلې په خاطر وېرېږی، ځان د ژوند کولو وړ نه ګڼی، له ژونده خوند نه اخلی او باور نه کوی چې یو کس در سره مینه لري. کېدای شي په هنداره کې ځان وګوری او له خپل ظاهره ناخوښ/ناخوښه شی او یا ځان د خپلو افکارو او احساساتو په خاطر ورټی.

دغې موضوع کېدای شي له کلونو تاسې کړولې یاست او یا د یوې بدې تجربې او په یوه نامناسبه اړیکه کې د راګیرېدو په خاطر، د دغې موضوع ښکار شوي یاست. په هر صورت، باید پر نفس د باور زیاتولو لهپاره منفي افکار پرېږدئ، تر هغو چې ستاسې په ذهن او فکر کې پر ځان د انتقاد غږ نور لوړ نه کړئ. د خپل درون خبره واورئ او هغه غږ چې همېشه ستاسې بد وایي او د دې سبب کېږي چې د ځان په نسبت بد احساس ولری، نور مه اورئ.

پر داسې مهارتونو کار وکړئ چې له تاسې سره له دغو منفي افکارو د ځان خلاصولو په خاطر مرسته وکړي. د دغو منفي افکارو یوه برخه کېدای شي په یوه ناسم او بد محیط یا یوه ناسمه اړیکه کې د راګیرېدو په خاطر رامنځ ته شوې وي. هرڅه چې دي، باید دغه منفي افکار په داسې مثبتو ځیزونو سره چې انګېزه بخښوونکي دي او ستاسې روحیات رغوي، عوض کړئ. هرکله چې داسې احساسات درته راغلل چې ستاسې روحیات یې کمزوري کول، سملاسي د ځان په اړه یوه مثبته جمله ووایاست. که په یوه داسې اړیکه کې یاست چې هغه مو پر ځان د باور له لاسه ورکړې لامل شوې، د ځان په نسبت د وېرې او ګناه د احساس پر ځای، در په یاد کړئ چې دغه مشکل ستاسې کمزورتیا یا ګناه نه ده او حللاره یې هم له شک پرته نه شي کېدلای چې د احساساتو سرکوبول، وېره او یا پر ځان د باور له لاسه ورکول اوسي.

## پلوسي: امریکا نه غواړي چې افغانستان یوځل بیا د ترهګرو پر مرکز بدل شي

د امریکا د کانګرېس مشرې نانسي پلوسي ویلي، امریکا هېڅکله نه غواړي چې افغانستان یوځل بیا د ترهګرو پر مرکز بدل شي.

نوموړې افغانستان ته د نا اعلان شوي سفر په ترڅ کې ورمه شپه له ولسمشر غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله سره په جلا جلا کتنو کې د افغان سولې پر بهیر، ټاکنو، له تروریزم سره پر مبارزې او د افغان مېرمنو پر لاسته راوړنو خبرې کړې دي.

د ارګ د بیان له مخې، پلوسي له ولسمشر غني سره په لیدنه کې ویلي: «په افغانستان کې زموږ د حضور دلیل دا دی چې یو وخت طالبان په دغه هېواد کې د هغو تروریستانو کوربه وو، چې پر موږ یې برید وکړ او موږ هېڅکله نه غواړو چې افغانستان دوباره د تروریستانو پر ځاله بدل شي».



ولسمشر غني هم له نوموړې سره په لیدنه کې، داعش ډله افغانستان او امریکا ته جدي ګواښ بللی او زیاته کړې یې ده چې طالبانو په افغانستان کې ترهګرو ډلو ته د فعالیت زمینه برابره کړې ده.

غني په دغه لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو په ځانګړي ډول په امنیتي برخه کې د اړیکو د پراختیا غوښتنه هم کړې ده.

غني ویلي: «په افغانستان کې د امریکا متحده ایالتونو د حضور د نوعیت څرنګوالی د دواړو هېوادونو ترمنځ په لاسلیک شویو تړونونو پورې اړه لري او په راتلونکې کې به د دواړو هېوادونو ترمنځ په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د حضور د څرنګوالي د هر تصمیم په اړه بحث وشي».

پلوسي له اجرایه رییس عبدالله عبدالله سره هم په کتنه کې پر ټاکنو، سولې او امنیتي مسایلو باندې خبرې کړې دي.

هغې ویلي: «موږ غواړو چې په افغانستان کې سوله ستاسو په مالکیت او مشرۍ رامنځته شي، امنیت رامنځته شي، د افغانستان اقتصاد ښه شي او افغانان په امنیت کې ژوند وکړي».

د اجرایه ریاست د بیان له مخې، د امریکا د کانګرېس مشرې د افغان ولسمشریزو ټاکنو له تر سره کېدو د هرکلي تر څنګ، په دغه بهیر کې پر شفافیت ټینګار کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر هم افغانستان ته د یو نا اعلان شوي سفر په ترڅ کې له ولسمشر غني سره وکتل. دا د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو تر پای ته رسېدو وروسته، چې تر دې مهاله یې لا پایلې نه دي اعلان شوې، افغانستان ته د دربیم لوړپوړي امریکایي چارواکي سفر دی چې تر سره کېږي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اپمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۲مه | ۴۴۹مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۷ | ۲٤ | ۲۸ | ۲۳ |
| ۵ | ۵ | ۸ | ۹ | ۱٤ | ۱٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۱ | لمر ختل ۰٦:۰۳ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازدیگر ۰۲:٤۷ | ماښام ۰۵:۱۳ | ماخوستن ۰٦:۳۷

## ولسی جرگه ادعای اخذ ۳۰ میلیون دالر رشوت از سوی برخی وکلا را بررسی می کند



شمولیت ادعای اخذ سی میلیون دالر رشوت از سوی برخی اعضای ولسی جرگه، در آجندای دیروز این جرگه، از سوی رئیس مجلس رد شد و گفت که این موضوع، از سوی کمیتهٔ رؤسا بررسی می شود.

علی اکبر قاسمی نماینده مردم غزنی در ولسی جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفت که باید موضوع اتهامات وارد شده، از سوی کمال ناصر اصولی بالای هیئت اداری، به شکل جدی بررسی شود.

رئیس، معاون اول، معاون دوم، منشی و نایب منشی، شامل هیئت اداری ولسی جرگه می شوند.

قاسمی افزود که اصولی، چند روز قبل در نشست عمومی گفت که «هیئت اداری» با برگزاری نشست ها در خانه های شان، و استفاده جویی از چوکی، تاجران را دعوت می کنند و با گرفتن رشوت به آنها از مقام های مسئول اجازه می گیرند تا تیل را بدون پرداخت مالیه وارد کشور سازند.

وی بدون ارایه جزیات گفت که اصولی، هیئت اداری را متهم کرده که از بابت معافیت تیل، ۳۰ میلیون دالر امریکایی رشوت اخذ کرده اند.

احمدشاه رمضان نایب دوم ولسی جرگه گفت که باید کلیپ اصولی، در مجلس به نمایش گذاشته شود که چه گفته است.

سپس کمال ناصر اصولی نماینده مردم خوست گفت: «من هیچ گاه نگفته ام که هیئت اداری، ۳۰ میلیون دالر فساد کرده است، گزارش هایی وجود دارد که وکلا نشست ها را در خانه های شان برگزار می کنند و تاجران را دعوت می کنند و با گرفتن پول از آنها، به تاجران معافیت گرفته می شود تا بدون پرداخت محصول، تیل را وارد کشور کنند». وی افزود که این موضوع باید با توظیف هیئت بررسی شود.

## نړۍ




## ایران: په سوریه کې د ترکیې د پوځي پوستو له جوړولو سره مخالف یو



ایران ویلي، په سوریه کې دننه د ترکیې د پوځي پوستو له جوړولو سره مخالف دي او زیاته کړې یې ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د پولو درناوی باید وشي.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند عباس موسوي چې تېره ورځ یې په اونیز خبري کنفرانس کې خبرې کولې، ویلي چې د سوریې او ترکیې ترمنځ مسایل باید له ډیپلوماتیکو لارو هوار شي.


هغه زیاته کړې، تهران په سوریه کې د ترکیې د پوځي پوستو د جوړولو مخالف دی او د سوریې د ځمکنۍ بشپړتیا درناوی باید وشي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د سوریې په شمال کې په موقت ډول د جګړې له درېدو سره موافقه وکړه، چې پر اساس یې کُرد ځواکونه چې ترکیې یې پر وړاندې جګړه پیل کړې، وکولای شي له دې سیمې ووځي.

دې ته په پام سره چې د ترکیې د موقت اوربند مهلت به نن پای ته ورسېږي، د سوریې د کُرد ځواکونو چارواکو ویلي چې لبوال دي څو د امریکا په منځګړیتوب د رامنځته شوي اوربند د رعایتولو لپاره، د سوریې له شمالي برخو خپل ځواکونه وباسي، خو په دې شرط چې د ترکیې په مشرۍ ځواکونه په سیمه کې پاتې کُرد ځواکونو او ملکیانو ته اجازه ورکړي چې د جګړې له سیمې ووځي.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو د یکشنبې په ورځ وویل چې انقره نه غواړي چې یو کُرد وسله وال هم په هغه خوندي سیمه کې پاتې شي، چې ترکیه یې د رامنځته کولو پلان لري.

## پوتین: هڅه کوو چې په افریقا کې خپل حضور پیاوړی کړو



د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین ویلي، د اکتوبر له ۲۳مې تر ۲۴مې پورې به په سوچي ښار کې د روسیې او افریقا د لومړنۍ سرمشریزې کوربه توب وکړي.

د پوتین په خبره، په دې سرمشریزه کې به د نړۍ د هېوادونو له مشرانو سره د تروریزم پر وړاندې د مبارزې، د پوځي او سوداګریزې همکارۍ په ګډون، پر ځینو مختلفو مسایلو نظریات تبادله کړي.

نوموړي د روسیې له تاس دولتي خبري اژانس سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي، غواړي چې د افریقا په وچه کې د روسیې حضور له دې پرته چې په سیمه کې له نورو سیالانو لکه د امریکا متحده ایالتونو او چین سره ځان په تقابل کې واچوي، پیاوړی کړي.

پوتین دغه راز زیاته کړې، دې ته په پام سره چې د افریقا وچه د نوښتونو د یوه پراختیایي مرکز پر بدلېدو، د نفوس پر زیاتوالي او په چټکې اقتصادي ودې سره د مهمې وچې په توګه د راڅرګندېدو په حال کې ده، ورسره د ودې په حال کې هېوادونو د اړیکو د پراخوالي لېوالتیا هم زیاته شوې ده.

پوتین د دغو هېوادونو له ډلې هند، ترکیه، د خلیج هېوادونه، جاپان، جنوبي کوریا، اسرائیل او برازیل یاد کړې دي.

د پوتین دغه څرګندونې داسې مهال دي چې په دې وروستیو کې د روسیې او امریکا ترمنځ د ځینو نړیوالو مسایلو پر سر اړیکې تر بل هر وخت ترینګلې شوې دي.

## ژوند

## مېرمنې له زېږون وروسته څنګه خپل وزن کم کړي؟



لږ تر لږه شپږو میاشتو ته اړتیا ده چې له زېږون وروسته د مېندو وزن خپل اصلي حالت ته را وګرځي. ډېری وخت له زېږون وروسته مېرمنې خپل یوه اندازه وزن له لاسه ورکوي. اوبه، وینه او ماشوم لږ تر لږه پنځه یا شپږ کیلو وزن لري چې په ټوله کې د مور له بدن څخه کمېږي. په اصل کې دا تاسو خپله یاست چې په تدریجي ډول خپل وزن کم او کنټرول کړئ.

**کوم ورزش ګټور دی؟**

هغه مېرمنې چې په طبیعي ډول یې ماشوم زېږولی وي، کولی شي له هماغه لومړۍ ورځې ورزش کول پیل کړي؛ خو که یې سېزارین عملیات کړی وي، بیا نو خپله په مېرمنې پورې اړه لري چې څه وخت په خپل وجود کې د ورزش کولو توان ویني. یانې کله چې د ټپ درد له منځه ولاړ شي، بیا مېرمنې کولی شي ورزش پیل کړي. له لسو دقیقو یې دې پیل کړي او ورو ورو یې دې تر شلو دقیقو پورې ورسوي. ښکته او پورته کېدل یې لومړنۍ مرحلې دي چې کولی شي په دې ډول یې پیل کړي. کولی شي په ناستو خپلې پښې وغځوي او بیا یې راټولې کړي، دغه ډول کړنې دې څو ځلې تکرار شي.

## هغه اور چې هېڅکله نه مړ کېږي



کېدای شي داسې یوه حالت ته ورسېږئ چې له خپلو هیلو زړه توري شئ او ترې لاس په سر شئ؛ خو له نېکه مرغه باید ووایم چې ستاسې په وجود کې یو اور شته چې هېڅکله نه مړ کېږي. خدای پاک هغه وعدې چې له تاسې سره یې کړې دي، هېڅکله نه هېروي. کېدای شي تاسې یې د هېرېدو هڅه وکړئ او یا بل څوک هڅه وکړي چې فکر مو واړوي او در باندې هېرې یې کړي؛ خو ستاسې په وجود کې یو اور بل شوی چې تاسې ورو ورو سوزوي او په یو ډول مو را وېښوي چې تاسې باید د خپلو هیلو د پر حقیقت بدلولو لپاره لاس پکار شئ.

تاسې خدای پاک داسې پیدا کړي یاست چې هیلو ته په رسېدو کې د هغه له مرستې پرته د بل چا مرستې ته اړتیا نه لرئ؛ خو په دې شرط چې د زړه له تله وغواړئ. له نورو تمه وشکوئ، تاسې پر هرڅه سمبال یاست، تاسې د یوه ماموریت لپاره را استول شوي یاست. تاسې د هر هغه څه لرونکي یاست چې اړتیا ورته لرئ. دا هرڅه په خپل وجود کې ولټوئ، اوس د دې وخت را رسېدلی چې خپل ځان وهڅوئ، نن هغه ورځ را رسېدلې چې یوه نوي پړاو ته ننوزئ او د دې وخت را رسېدلی چې لوی لوی کارونه وکړئ.